# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده
د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري لمريز

۱

درېنۍ (سه شنبه) د وږي ۱۱ - ۱۲مه ګڼه، پرله پسې (۴۷۵-۴۷٦) مه ګڼه، د ۱۴۰۵ل کال د وږي ۳۱مه، د ۱۴۴۸هـ.ق. کال د ربيع الثاني ۱۰مه او د ۲۰۲٦م.کال د سپتمبر ۲۲مه


ولايت دی خدای هغــــــــــه لره ورکړی
چې يې ورک کړ ســـــــــــــــکونت په دا دنيا

په رحمٰن باندې دا عمــــــــــــــر هسې تېر شو
لکه تېر شو يو ســـــــــــــــــاعت په دا دنيا

عبدالرحمٰن بابا


پروفيسور دوکتور حنيف خليل


# د کاظم خان شيدا د جمال نظريه (۱) برخه

د کاظم خان شيدا د شاعرۍ په رڼا کې د هغه د جمال په نظريه تر بحث کولو وړاندې په دې پوهېدل ضروري دي چې شيدا د کومې لارې او کوم معيار شاعر و او موږ بــــه د هغه د جمال نظريه له کوم لوري څېړو. شيدا په پښتو ادب کې د هندي مکتب تر ټولو کلک مشــرح، عالم، فاضل او صوفي شاعر دی. ځکه نـــو موږ د هغه د جمال په نظريه د بحث پــــــه وخت د هغه صوفيانه فکر او علم و فضل په پام کې نيسو.

> د اسلام له راتګ او د قرآن حکيم له نزول وروسته په جمالياتي افکارو کې ډېر تفصيلات مخې تــه راغلل او دغسې د اسلامي تصوف خاوندانو هم د قرآن حکيم په رڼا کې په جمالياتي افکارو او اقدارو غور وکړ او له دغه ديده يې د حسن حقيقي او حسن ازلي د نظرياتو تشريح وکړه.

خو تر دې وړاندې په تاريخي لحاظ په جمالياتي افکارو هم غور پکار دی. تر اسلام او بيا تر ميلاد وړاندې له جمالياتي افکارو څخه د فيض اخيستلو لپاره موږ سره د يوناني مفکرينو نظريات موجود وو. دغو مفکرينو کې زياترو جمال په وحدت تناسب او توازن کــــې لټولی. تر دې پرته هره نيکي حسن ګڼل، د حســــــن مطلق، حسن ازل او حسن حقيقي نظريات هــــــم موجود وو. له سقراط تر ارسطو او د هغه د ځينو پيروانو پورې د حسن په اړه اکثر هم دغه نظريات وو. له دې وروسته د ابيقورس او د هغه د پيروانو د جمالياتي افکارو دور وو. دوی هر هغه څيز حسين ګڼلو چې روح ته مسرت وبښي ولې دوی روح هم لکه د جسم مادي ګڼلو او دغسې يې په جمالياتي افکارو مادي رنګ خورولو.

له دوی وروسته رواقيانو د رواقيت پــــــه نوم جمالياتي فلسفه وړاندې کړه، دوی د افلاطون او ارسطو د نظرياتو په تاييد کې جمال ته له اخلاقي نظره کتل. له رواقيت نه وروستو پلاټنيس او نورو مفکرينو جمال ته په روحاني او اخلاقي نقطه نظر کتل.

د اسلام له راتګ او د قرآن حکيم له نزول وروسته پــــــه جمالياتي افکارو کې ډېر تفصيلات مخې تــــــه راغلل او دغسې د اسلامي تصوف خاوندانو هـــم د قرآن حکيم په رڼا کې په جمالياتي افکارو او اقدارو غور وکړ او پـــــه هم دغه تناظر کــــــې يې د حسن حقيقي او حسن ازلي د نظرياتو تشريح وکړه. د جمال ســر چشمه يې خالق او د دغه جمال مظاهري مخلوقات فطرت وګڼل شو.

لکه مخکې مو ويلي دي چې شيدا په اسلامي علومو ښه پوه او صوفي شاعر و نو ځکه به موږ د هغه په نظريه جمال د بحث په وخت د يوه بنيادي مأخذ په حيث له هر څه وړاندې قرآن حکيم په پام کې ساتو.

د اسلامي صوفيانو نظريه دا ده چې پـــــه کايناتو کې څه هم موجود دي دا ټول د خالق له وجود نه فيض اخلي. هر کله چې د حديث مبارک "الله جميل ويحب الجمال" له رويه دا معلومه ده چې خالق جميل دی او ۲مخ


ل: اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد
ژ: څېړندوی بشرمل زرغون


# په بيهقي تاريخ کې د پښتو څو دوديزې کلمې (۱) برخه

دا روښانه ده، کـــــومې ژبې چې ګډه ريښه ولري، د هغو غړونه، لفظونه، د تـــــــړنګونو (ترکيبونو) جوړښتونه او غونډلې (جملې) سره يو او برابرې دي چې زماني واټن ورو ورو هغه له منځه وړي؛ مګر د محيطي وينــګ نږدېوالي، دغه شان د ژبو نږدېوالي يو بل تـه قوت بخښلی او زماني واټن کـه له يو بله لرې کړي؛ خو بيا هم يو اندازه اغېز پـه يو بل سره لري او که دغه ژبې چې يوه له بلې سره نږدې او ګډې ريښې لري، د ويلو سيمې يــې سره لـرې شـوې، زماني واټن دغه نږدېوالی ډېر ژر سره راټـولـوي او کـوم تړاونه چې لري؛ هغه پـــــه ډېرې تېزۍ سره راغونډوي.

> ابوالفضل محمد بن حسين بيهقـي (۳۸۵- ۴۷۰ هـ ق) چې د غزني له لويو پوهانو څخه دی، سره له دې چې زېږون يې د نيشاپور پـه خواوشا کې شوی؛ مګر د عمر ډېره برخه يې په غزني کې تېره کړې او په ډېر باور چې نوموړي د يوه ارزښتمن او وزين اثر "بيهقي تاريخ" پــــه ليکلو په غزني کې (۳۸) کاله تېر کړي چې د هغه وخت له اغېزه يې ياد اثر همداسې نه دی پاتې شوی، او ځای - ځای په کې د پښتو دوديزې کلمې ليدل کېږي.

پښتو او دري هغه ژبې دي چې په افغانستان کـــــې سره ګډې، د ويلو تونونه يې يو دي، پـه همدې اساس د دواړو ژبو اغېزې په يو بل کې تــــــــر ډېره ښکاره او جوت ليدل کېږي او په افغانستان کې يې دغه لرغونی نـږدېوالـی تـر دې دمه لـــــه لاسه نه دی ورکړی او د يـادې خـبرې زبات زموږ په هېواد کې دمګړۍ هم شته، د بېلـګې په توګه که د کابل د خلکو ګړنو او يـا د "فرهنـګ لغـات عاميانه پارسی" چې په کابل کې تأليـف او چـاپ شـوی تـــــــه کتنه وکړو؛ ډېرش سلنه هغه کلمې رااخلي چې په پښتو کـې دود وې او د پارسي ژبو په ګړنو کـې داسې راغلې دي چــې د پښتو ويونکو له پامه غورځېدلې دي، يا په ټولېز شکل هېڅ دود او نامنونکې وې او يا پـه همـغې بڼې او معنا نــــــه وې، د پارسي په ټولو فرهنګونـو کې پـــــه همغې بڼې او معنا هم ثبت شوې نـه دي، د دغـو کلمو بېلګې په دې ډول دي:

۱- **سيال:** د ښکلي، د يو بل برابر، رقيب په معنا.[۱]
په پارسي متلونو کې:
- زن سيال ګرفتن سخت است، نګه کردنش آسان.[۲]
- من سيال تو سيال، در کلۀ تو چه خيال.[۳]

۲- **سيالداري:** د سيالۍ کولو، رقابت کولو په معنا.[۴]

۳- **تېر:** د اوښتو، تېرېدو په معنا.
په پارسي نومونه (اصطلاح) کې:
زېر ريشش خر سوار **تېر** ميشه (= ميشود).[۵]

۴- **تېر کردن:** د تېرولو، يوه شي ته د منلو او مـجازاً د تېرايستلو په معنا.[٦]

۵- **سرتېر:** د سرباز، زمري، زړور په معنا.[۷]
د پارسي په يوې مسرۍ کې لولو: ۳مخ


طالب منګل


# د اوسنی شاعری وجودي او رواني بېلګې

د اوسنۍ شاعرۍ د بېلګو د مطالعه کولو پــــه وخت کله کله سړی هېڅ نه پوهيږي چې لــــــه کوم ځای نه يې پيل کړي؟ کوم هنرونه راوسپړي؟ تصوير، استعاره، ابهام او که وجودي او رواني اړخ يې وکتل شي؟ خو لـــــه دې سره سره تمه پيدا شي چــــې د اوسنۍ شاعرۍ ماډلونه دومره پراخ دي چې تر يوه عنوان لاندې څېړل يې ستونزمن وي خو ښه خبره دا ده چې د اوسنۍ شاعرۍ غېږ په همدې ګلونو ښکلې او تنوع لرونکې ده.

په دې منځ کـــــــې زمريالی اباسين هم خپله شاعري په بېلابېلو شعري هنرونو رنګينه کړې. کـــــــه په يوه اړخ يې خبرې کوو نو نور اړخونه او ښکلاوې يې پاتې کيږي او که په ټولو اړخونو يې خبرې کـــوو نو نه خو زموږ پوهه دومره ده او نه هم زما د موضوع له عنوان سره برابريږي، خو د اوسنۍ شاعرۍ د دې ماډل پېژندل ډېــــر ضرور دي چې بايد پرې خبرې وشي. زمريالی اباسين وايي:

> څـــــه ماضي يې چې له حاله ووځې نه
> نن سبا مـــــــې هېڅ له خياله ووځې نه
> زه دې زوړ کـــــــــړمه رژېږم لکه ريګ
> ته ځوانېږې لـــــــــــه جماله ووځې نه

پورتني بيتونه شايد په ويـــــــــلو کې ساده وي خو شاعر اعتراف کوي چې د هغه محبوب رواني حضور لري. همدا د اوسنۍ شاعرۍ هغـــــــه ځانګړنه ده چې محبوب له يوه انسانه د ذهني هستۍ يـــــــــــــــا رواني موجوديت تر کچې رسوي.

په بل بيت کې تضاد دی ځکه شاعر زړېږي خو محبوب ځوانيږي چې دا عاطفي رنګ لري خو کله چې وايي رژېږم لکه ريګ، دا ډېره نوې او محسوسه استعاره ده ځکه ريګ د باد په يــــــوه څپه خپرېږي، شيندل کېږي او خپل ثبات له لاسه ورکوي. شاعر ځـــــان ريګ بولي او ځان د ريګ سره تشبيه کوي. د جمال سمبول هـــــم په کې شته خو د اباسين په دې بيت کې محبوب داسې ښکاري لکه د وخت له قوانينو بهر موجود وي. وخت پـــــــر شاعر اغېز کوي، خو پر محبوب هېڅ اغېز نه لري. همـدې ته ورته يو څو نور بيتونه هم لري:

په لومړيو بيتونو کې ماضــــــــــي ژوندی ياد ښودل شوی، محبوب د جمال او بقا سرچينه بلل شوې او شاعر زړېږي خو په دويمو بيتونو کې بيا ماضي بلا او عشق افت ښودل شوی خو جمال قرباني شوی دی. ځکه خو وايي:

> زړه مــــــې خوړېږي د چا زړه راته ښېرې کـړې وي
> يو وخت خبر نه وم په عشق مې مسخرې کړې وي
> د چـــــــا ازار دومره وهلی يم چې ټـــــول خوړېږم
> د چا د درد مې څه بــــــې درده تماشې کـــړې وي

کله کله يې ژور بيتونه هم ډېر خواږه او نرم وي چې په يوه ساه لوستل کيږي لکه:

> د خوبونو اميدونو سبب تـــــــــه يې
> حاجت ته يې دعا ته يې طلب تــه يې
> تنهايي څه ده خو دښته د سکوت ده
> پدې دښته کې سندره د رب تـــــه يې
> ما ته وايې عجيبه يې اباسينــــــــــــــه
> ځان ته وګوره ګلابه عجب تــــــــه يې

که د زمريالي دا لاندې ازاد شعر ولولئ نو يو څه نور به هم د هغه شاعرۍ ته ورنږدې شي: ۳مخ

# د ګوجري ژبې پېژندنه


دوکتور سميع الدين ارمان


ګوجري (چې د غږ له مخې ورته Gojri يا Gurjari هم ويل کېږي) يوه مهمه هندو آريايي (Indo-Aryan) ژبه ده چې د هندو - اروپايي ژبو د لويې کورنۍ سره تړاو لري. په تاريخي کچه، ژبپوهان دا ژبه د هـند د راجستـان د سيمې د ژبو (Rajasthani group) يوه څانګه ګڼي، خو د پېړيو په اوږدو کې د جغرافيايي بدلونونو او کډوالۍ له وجې، دې ژبې د پنجاب او خېبر پښتونخوا د ځـايي ژبـو (لکه پنجابي، پښتو، هندي او هـنـدکـو) څـخـه پـيـاوړی کلتوري او ژبنی اغېز اخيستی دی. د خپـل خـاص غـږيـز نظام له وجې، دا ژبه په غريزو سيمو کې د پـېـژنـدګـلـوۍ ځانګړې جوړښت لري. د تاريخپوهانو او د هندو - آريـايـي کلاسيکو ژبو د ماهرينو په اند، د "ګوجري" لفظ اساس د کلاسيکې سنسکرت ژبې په "ګورجارا" (Gurjara / गुर्जर) کلمه کې پروت دی. په دې نوم کـــــې اخري "ي" د نسبت نخښه ده، چې معنا يې "د ګورجارانو ژبـــــه" ده. د زړې هندو - آريايي (Old Indo-Aryan) نه د منځنۍ هـنـدو - آريايي (Middle Indo-Aryan) زمانې تـــــه د غږونو د بدلون د قواعدو (چې ورته پراکريټيزېشن وايي) له مخې، دا کلمه په بېلا بېلو مرحلو کې داسې بدله شوې ده.

### ۱. کلاسيکي سنسکرېټ (Old Indo-Aryan)

په دې لومړنۍ مرحله کې اصلي کلمه په ليکلې او ژبـنـۍ بڼه "ګورجارا" (Gurjara / गुर्जर) وه.

### ۲. پراکرېټ او ابهرامشا (Middle Indo-Aryan)

په دې منځنۍ دور کې دوه ډوله نږدې موازي کلمې په ژبه او ليک کــــــــې رامنځته شوې؛ لومــړی "ګوجرالا" (Gujjarala / गुज्...) او دويمه د غبرګون د قانون له مـخې "ګاجارا" (Gajjara / गज्जर). دلته د سنسکرت مـخـلـوط غږ "-rj-" په يو دروند غبرګ غږ "-jj-" بدل شو.

### ۳. ګورجر ابهرامشا (Gurjar Apabhramsa)

د مستندو معلوماتو لـه مخې، "ابهرامشا" د يوې پېلـېـزې يا غير معياري ژبې ( corrupt or non-standardized form of speech) په معني ده. دا د زړو پراکريت لهجـو او د نوو ژبو ترمنځ د بدلون يوه منځنۍ کلتـوري مـرحـلـه وه، کومه چې د ٦مې او ۱۲مې ميلادي پېړۍ تـرمـنـځ پـه لوېديځ هند (راجستان او ګجرات) کې ويل کېدله او همدا د ګوجري، ګجراتي او راجستاني (مارو-ګورجر / Maru-Gurjar) ژبو تاريخي اصل او بنياد هم دی.

### ۴. نوې هند - آريايي (Modern Indo-Aryan)

په دې وروستۍ مرحله کې، د سر د تورو د غږ د خـکـتـه کېدو د سيمه ييز قانون له رويه، لنډ او پټ غږونه خلاص شول او د زياتره سيمو په ژبه کې ترې "ګوجر" ( / Gujjar गुज्जर) يا په ځينو شمالي لهجو کې د غږ د اوږدوالي لـه رويه "ګوجار" (Gojar / गोजर) جوړ شو.

د ګوجري ژبې تر ټولو لرغوني او پخوانی تاريخي ليکدود "تاکري" (Takri / टाकरी) رسم الخط ګڼل کېږي. دا يـو زوړ هندو - آريايي بڼه وه چې په شمالي همالـيـه کـې د بېلابېلو ژبو د ليک لپاره کارېدلـه. لـه مـنـځـنـيـو پـېـړيـو وروسته، د سياسي بدلونونو او کلتوري بدلونونو له وجـې د دې ژبې ليکدود ورو ورو "ديوناګري" او بيا په کشمير او نورو سيمو کې د کلتوري بـدلـون لـه رويـه پـه (Perso-Arabic) واوښت او همدغه نستعليق بيا د عصـــري او پوهنتوني تحريک بنياد هم وګرځېد. بل لوري تـه، کـه د دې ژبې تر ټولو لرغونې کلاسيک او ولسي شفـاهـي ادبي ذخيرې ته نظر وکړو، نو هغه د "بېـت" (Bait / बैत) پـه نوم يادېږي. بېتونه د ګوجري کلتور هغه اوږده کيسه ييز داستانونه، اولسي ترانې او رزمي غږونه دي چې ۲مخ

## د کاظم خان شیدا د جمال...

جمال یې خوښ دی، نو دا هم څرگنده شوه چې په کایناتو کې هر څه چې دي حسین دي، ځکه چې دا هر څه د خالق له معبود نه رڼا اخلي. شیدا هم د اسلامي صوفي په حیث د هم دغه نظریې منونکی دی چې دا ټول مخلوقات له خالق نه فیض اخلي او د دې هر څه موجودگي د هغه له مخه ده؛ وایي:

چې په ملک کې دي وجود دي
بهره مند د تا په جود دي

له دغه نظریې چې د هر څه وجود د خالق له مخه دی او د هغه د حسین کېدو له وجې دا هر څه حسین دي، تایید د قرآن حکیم له دې ایت څخه هم کېږي:
مفهوم: خدای پاک هر څه احسن (حسین) پیدا کړي دي. (سورة السجدة)
اوس پوښتنه دا پیدا کېږي چې د خالق په دغه حسین جهان کې له هر څه زیات حسین او جمیل څه شی دی؟ د دغه سوال جواب که د شیدا په شاعرۍ کې ولټوو نو معلومه به شي چې د هغه په نظریه انسان په ټولو مخلوقاتو کې زیات حسن او جمال لري او صرف انسان د خالق د خلافت او نیابت اهل و، شیدا وایي:

لوی دیوان دې مرتب کړ
چې انسان دې منتخب کړ

اوس که د شیدا دغه نظریه هم د قرآن حکیم په رڼا کې وگورو نو وړومبی خو دا خبره ثابته ده چې خالق خپل نایب انسان منتخب کړی دی او بیا دا هم ښکاره ده چې د خالق له خوا د خلافت لپاره د انسان دغه انتخاب په دې وجه شوی دی چې انسان په ټولو مخلوقاتو کې حسین دی. د انسان د حسن په اړه هم قرآن حکیم وایي:
مفهوم: چې ستاسې تخلیق مې وکړ نو ښومره حسین مې وکړ. (سورة غافر)
د انسان د حسن په اړه په قرآن حکیم کې نورې اشارې هم شته خو د حسین کېدو وجه دا ښودل شوې ده چې خالق انساني فطرت په خپل فطرت تخلیق کړی دی. د قرآن حکیم آیت دی:
مفهوم: د خالق فطرت داسې دی چې د انسان فطرت پرې تخلیق شوی دی. (سورة الروم)
له دې وجې شیدا د دې قایل دی چې خالق خپل همراز محض انسان جوړ کړی دی، خپل خصوصي انعام او اکرام یې انسان ته ورکړی دی. د خپل علم یوه برخه یې انسان ته ورکړې ده، په ټولو مخلوقاتو کې شرف او وقار انسان ته حاصل دی. تر دې انسان د ملایکو مجسود جوړ شوی دی. دغه ټول امتیازونه یوازې له دې امله دي چې انسان حسین دی او د هغه فطرت د خالق په فطرت تخلیق شوی دی.

تا له خاورو ادم ساز کړ
تا همراز او تا دمساز کړ
تا مصداق د کرمنا کړ
په هر اسم دې دانا کړ
په وجود له خاکیانو
کړه مسجود افلاکیانو

دا خبره روښانه شوه چې د قرآن حکیم د افاقي نظریه جمال مطابق د شیدا نظریه دا ده چې د حسن سرچشمه خالق دی مخلوقات د هغه له حسن حقیقت څخه فیض یاب او ځکه حسین دي. په ټولو مخلوقاتو کې انسان زیات حسین دی. اوس به د شیدا د جمال نظریه له دې وړاندې وگورو: خالق د همدغه مخلوق په وجه پېژندی شي، د انسان په جوړښت له غور کولو نه پس د خالق د حسن او پېژندگلو نښې په فطرت کې موجودې دي او خالق پخپله هم موږ ته په فطرت کې د غور کولو وایي ځکه چې هغه دغه فطرت هم حسین پیدا کړی دی.
زموږ اکثرو جمال پرستو شاعرانو په خپله شاعرۍ کې د فطرت د جمال څرگندونه کړې ده، کاظم خان شیدا چې په بنیادي توگه یو جمال پرست شاعر دی نو ځکه یې د فطرت د اجزاوو حسن و جمال په خپله شاعرۍ کې نغښتی دی. د شیدا کمال دا دی چې د محبوب د حسن لپاره یې د فطرت اجزاء د تمثیل په توگه استعمال کړي دي او دغه شان یې د محبوب او د فطرت د حسن امتزاج په داسې شاعرانه انداز کې کړی چې شاعري یې سراسر د حسن و جمال بې مثاله نمونه ده. هر څو که د هغه شاعرانه تکنیک او پوخوالي د هغه د شاعرۍ خوند رنگ بې مثاله کړی دی ولې دلته یې موږ د تکنیک په ځای په جمالیاتي تصور زیات بحث کوو. د محبوب او فطرت د حسن امتزاج په تمثیلي انداز کې داسې کوي:

له شفق سره افتاب متمثل کا
چې جلوه هغه طناز په رنگ محل کا
د افتاب د چشمې اب د شفق رنگ وي
چې تصویر ته یې د تا مصور حل کا
د نرگس تر گل یې زیاته زیبایي وي
چې په سترگو کې خندا زما اجل کا
اراسته جمال یې درست د چین تصویر شي
توري زلفي چې قلم د مشکین مو کا

د شیدا د لفظي او معنوي مشکل پسندۍ له وجې د دغو پورتنیو شعرونو تشریح کول هم ضروري گڼم چې هغه ښوک ترې هم مزه واخلي چې له دغو شعرونو معنا اخذ کول ورته گران دي.
په وړومبي شعر کې شیدا وایي چې زما شوخ (د ښکلي ادا ښښتن) محبوب چې په رنگ محل راښکاره شي نو د دې مثال داسې دی لکه چې لمر په شفق ښکاره کېږي، دویم شعر کې وایي چې یو مصور چې ستا تصویر سازوي نو هغه به هله ستا د حسن او جمال انځور په ښه توگه پیش کړی شي چې ستا د تصویر سازولو لپاره لمر د چشمې اوبه او د شفق رنگ یو ځای کړي او بیا د هغې نه ستا تصویر ساز کړي، درېیم شعر کې وایي چې زما أجمل (جمیل) محبوب چې په سترگو کې مسکی شي نو د نرگس د گل نه یې حسن زیات وي، په څلورم شعر کې وایي چې زما محبوب چې خپلې توري مشکني زلفي قلم (یعني سازي) کړي نو جمال یې ښېخي د چین تصویر معلومېږي. د چین د ماني نومي مصور د شاهکارۍ مصورۍ له مخه هر ښکلي او حسین څیز لپاره د چین تصویر اصطلاح مشهوره ده.
د چین د مصور "ماني" ذکر شیدا په دې شعر کې هم کړی دی:

که د هند اب و رنگ ستا په صورت شه
خپل قلم ورته ماني راوړه له چینه

د کاظم خان شیدا د جمال د دغه افاقي نظریې که تحلیل او تجزیه وکړو نو معلومه به شي چې هغه جمال له څلورو زاویو نه گوري. وړومبی دا چې جمال د اظهار مقتضي دی، دویم دا چې جمال د مختلفو رنگونو امتزاج او د تضاداتو تصادم کې دی. درېیم دا چې جمال په ژوند او حرکت کې دی. څلورم دا چې جمال په وحدت، تناسب او توازن کې دی. اوس به موږ په دغو څلورو واړو زاویو بحث وکړو.

### ا: جمال د اظهار مقتضي دی:

د جمال د اظهاریت نظریه دا ده چې جمال په هر صورت د اظهار تقاضه کوي، د دغه نظریې لپاره موږ سره د ټولو نه بنیادي مأخذ دا حدیث شریف دی: مفهوم: "زه پټه خزانه وم، ما وغوښتل چې وپېژندی شم (ښکاره شم) نو مخلوق مې پیدا کړ."

> د چین د ماني نومي مصور د شاهکارۍ مصورۍ له مخه هر ښکلي او حسین څیز لپاره د چین تصویر اصطلاح مشهوره ده.

دغه نظریه په فلسفیانه شکل کې د جمالیاتو عالم باړگارټن هم وړاندې کړې وه او د اټلي مفکر بینډیډیټو کروچې د ددغې نظریې زیاته تشریح کړې ده. د شیدا د جمال د نظریې یوه زاویه هم دغه د اظهاریت ده. هر کله چې د شیدا دغه نظریه هم اسلامي نظریه جمال سره هم اهنگه ده نو ځکه موږ دغه نظریې ته افاقي وایو، د حسن د اظهار د تقاضې ذکر شیدا داسې کوي:

ائینه ورته افتاب نیسي د صبح
بیا ښېوه د گلستان خود ارایي شوه

یعني گلستان د خپل حسن له وجې خود ارایي یا ځان ښودنه کوي، له دې نه معلومه شوه چې هر ښکلی څیز د خود ارایي یا اظهار تمنا کوي، دغه تاثر د شیدا د دې شعر نه نور هم زیات جوتېږي:

مخ د خوبانو جلوه پیرا بویه
تل نمایان او محفل ارا بویه

### ۲: جمال د مختلفو رنگونو امتزاج کې دی:

لکه څنگه چې د مسلسل حرکت او سکون بیا حرکت او بیا سکون د وحدت او امتزاج نه په کلام او بیان کې توازن او ښکلا پیدا کېږي او د موسیقۍ د تضادو سرونو او مختلفو سازونو د امتزاج نه خوندوره نغمه زېږي دغه شان د مختلفو رنگونو د امتزاج نه ساز شوی تخلیق هم حسین وي، فرق صرف دومره دی چې نغمه او ساز د اورېدلو حس سره تعلق لري او رنگونه د لیدلو حس سره د حسن احساس که په هره ذریعه وي خو شدید هله وي چې د تضاداتو د تصادم نه زېږېدلی وي. د جمال د نظریې دغه زاویې ته د جمالیاتو عالمانو د بوقلموني نوم ورکوي. کاظم خان شیدا حسن ته له دغه زاویې هم کتلي دي او د خالق دغه تخلیق شوی کاینات یې د تضاد او تخالف نتیجه گڼلې ده، د خالق د ټولو نه د حسن تخلیق انسان په اړه وایي:

هر ورق یې گونا گون دی
هر مضمون بو قلمون دی

د بوقلموني دغه تصور صرف د مخلوق د حسن لپاره کېدای شي د خالق د حسن لپاره نه، او که صرف د تخلیق په اړه. د شیدا د بوقلموني نظریې تصور هم د قرآن پاک د نظریه جمال مطابق دی چې له دې بیان نه واضح کېږي.
ژباړه: خالق تاسو دپاره په ځمکه کې هر څه د مختلفو رنگونو د امتزاج نه پیدا کړي دي. (سورة النحل)

**(پاتې برخه بله گڼه کې)**

## د گوجري ژبې پېژندنه...

له پېړیو - پېړیو راپدېخوا د گوجر قبیلي سینه په سینه سفر کې ژوندي پاتې شوي دي. په دې کلاسیکو بېتونو کې تر ټولو لرغونی او منل شوی اولسي اثر د "نورا بېت" (Noora Bait) یا د دوی کلتوري رزمي قیصې دي چې د گوجرانو د کډوالۍ، مېړانې او د مال د څرولو د ژوند پخواني تصویرونه د شفاهي کلاسیک په ښه وړاندې کوي او د ژبې مادي تاریخ تړي.
د گوجري ژبې د خورېدو کیسه د گوجر قبیلي د کډوالۍ سره غوټه ده. د شپږمې پېړۍ نه تر دولسمې پېړۍ پورې دا خلک د هند په راجستان او د اوسني گجرات په سیمو کې مېشته وو، چې په تاریخي متونو کې دغه سیمه د "گورجاراترا" (Gurjaratra) په نوم یاده شوې ده. وروسته د سیاسي او موسمي بدلونونو په وجه د دې قبیلي بېلابېلو ډلو شمالي لورې ته کډې وکړې. د وخت په تېرېدو سره دوی د پنجاب له میدانونو تېر شول او د ازاد کشمیر، مقبوضه کشمیر، خیبر پښتونخوا او گلگت بلتستان په غریزو برخو کې مېشته شول او خپله ژبه یې په دغو غرونو کې وساتله.

### په بېلا بېلو هېوادونو کې د ویونکو شمېر (Demographics)

د گوجر قام ابادي په سیمه کې په محتاط اندازه تر شلو میلیونو زیاته ده، خو ډېرې برخې یې په میدانونو کې د اوسېدو په وجه په پنجابي یا هندکو غږېږي. هغه خلق چې اوس هم گوجري د مورنۍ ژبې په توگه وایي، شمېر یې په څو کاله زوړ ریکارډ کې داسې دی چې په پښتونخوا او نورو سیمو کې د دې ژبې تر ټولو زیات ویونکي دي، چې شاوخوا تر ۳ میلیونه پورې رسېږي (زیاتره په ازاد کشمیر او خیبر پښتونخوا کې) په مقبوضه کشمیر او هماچل پردېش کې د باکیروال او گوجر قبیلو د فعالو ویونکو شمېره شاوخوا تر ۲ میلیونه دی. د افغانستان په ختیځو ولایتونو (ننگرهار، کونړ او نورستان) کې د دې ژبې د ویونکو شمېره له دوه څخه تر څلور لکه پورې تخمین شوې ده. په ټوله نړۍ کې د گوجري ژبې د فعالو ویونکو شمېر شاوخوا ۵ څخه تر ۵،۵ میلیونه تنو پورې دی.

### د گوجري ژبې بنیادي گرامر او مورفولوژي (Morphology)

د گوجري ژبې بنیادي گرامر او (Morphology) په ټولو هېوادونو کې یو شان دي او ویونکي یې یو بل په اسانۍ پېژني. خو د کلمو په کچه یکې دوه فرقونه شته. لوېدیځه گوجري (شمالي پښتونخوا او افغانستان) لهجه باندې د پښتو او کوهستاني ژبو د لغاتو او اصطلاحاتو اغېز ډېر زیات دی. او مشرقي گوجري (کشمیر او هند) برخه باندې د کشمیري، ډوگري او پهاړي ژبو اغېز زیات دی او د هندي ژبې د کلتور د نسبت په وجه پکې د راجستاني ژبې لرغوني کلیمې په خپلو اصلو بڼو/جوړښتونو پاتې دي.

### د داردیکي ژبو سره کلتوري او ژبنی تړاو (Dardic Relationship)

د گوجري ژبې او داردیکي ژبو (لکه شینا، کهوار، کوهستاني او کشمیري) ترمنځ اړیکه جنیټیکي/جینیاتي (نزدي نسبي) نه ده، بلکې دا یوه ژوره جغرافیایي او محیطي اړیکه/رشته ده چې په ژبپوهنه کې ورته "اسپراخ بونډ" (Language Area / Sprachbund) وایي. د دې مشترک کلتور ژوند په وجه دا ځانگړنې پیدا شوې دي.
**أ) د غږ ټون او پېچ (Phonemic Tone):** په اصلي هندي او راجستاني ژبو کې (Aspirated voiced consonants لکه bh, dh, gh) په پوره توگه تلفظ کېږي خو په شمالي غرونو کې د داردیکي ژبو په گډون، دا غږونه له منځه لاړل او په بدل کې یې په گوجري کې هم د غږ خکته کېدل او پورته کېدل (Tone) پیدا شول.
**ب) د ژبې بېرته تاوېدل (Retroflexion):** داردیکي ژبې د ژبې د تاوېدو د غږونو (Retroflex consonants) په وجه مشهورې دي. کله چې گوجري په شمالي سیمو کې مېشته شوه، د ځایي شینا او کوهستاني ژبو په اثر یې په خپل غږیز نظام کې نوي رېټروفلیکس غږونه شامل کړل.
**ج) د ضمیرونو نښې (Pronominal Suffixes):** د کشمیري او د پنجاب د غرنیو سیمو د (هندکو) غوندې، په لوېدیځه گوجري کې هم د جملې د اخر د فعلونو سره د ضمیر ځانگړي ټوټې یا نښې نښلول کېږي، خو په بنیادي هندي او راجستاني کې دغه ډول نښې نشته.
که د گوجري ژبې بیلا بیل پړاوونه او پرتونه راوسپړو نو د دې ژبې ډانچه او هډوکي (یعنې د هغې گرامر، بنیادي او مادي افعال، او د ضمیرونو نظام) په بشپړه توگه راجستاني او مرکزي هندو آریایي دی. خو بل طرف ته، د هغې څرمن او ساه (یعنې د هغې ځانگړې لهجه، د غږ خکته کېدل او پورته کېدل، د غرنیو سیمو لغات او د فونیټکس غږیز نظام) د همالیه د دغې لمنې او د هندوکش په لوړو غرونو کې د پېړیو د اوسېدو په سبب په بشپړه توگه داردیکي رنگ خپل کړی او داردیکي شوې ده.

### سیاسي، تعلیمي او سرکاري حیثیت او رسم الخط

په هند او د هغې تر انتظام لاندې کشمیر کې گوجري ژبې ته تر ډېره پام شوی دی. دا ژبه د هند د آئین په اتم شېډول (Eighth Schedule) کې د شاملېدو لپاره په رسمي کاندیدو ژبو کې شمېرل کېږي. د جمو او کشمیر په پخواني آئین کې دا په شپږم شېډول کې د یوې رسمي سیمه ییزې ژبې/regional language په توگه منل شوې ده. په کشمیر کې د گوجري ژبې لپاره نستعلیق (عربي-اردو رسم الخط) کارول کېږي، خو په دې کې د گوجري د غږونو لپاره ځانگړي نښې زیاتې کړل شوي دي. د هند په نورو ایالتونو/صوبو (لکه هماچل او هریانا) کې د هندي د نفوذ له وجې، ځینې لیکوالان د دې لپاره دیوناگري (Devanagari) رسم الخط هم کاروي. په پاکستان کې د گوجري ژبې د رسمي کېدو او پېژندگلو په لاره کې دوه تاریخي کارونه شوي دي. د نادرا (NADRA) او د ۲۰۲۳ م کال ډیجیټل سرشمېرنه کې په اول ځل په ملکي سرشمېرنه کې گوجري ژبې ته په ډیجیټل ټبلیټونو کې ځان له پېژندگلو او کوډ ورکړل شو، چې د هایکورټ په فېصله ورکولو داسې ممکن شو. دا د نادرا په ډېټابېس کې د دې ژبې د ثبتېدو اولنی او لوی گام و. بل د ۲۰۲۵م کال د اکتوبر په ۲۷مه نېټه، د خیبر پښتونخوا صوبایي اسمبلۍ یو تاریخي قرارداد منظور کړ، چې له مخې یې گوجري ژبې ته په اسمبلۍ کې د خبرو اترو د رسمي او مجازې ژبې قانوني حق ورکړل شو. دا کار د پښتو او هندکو غوندې د دې ژبې سرکاري کچه لوړه کړه. د هند او کشمیر په لویو پوهنتونونو کې (لکه د بېبا غلام شاه بادشاه یونیورسټي او د جمو یونیورسټي)، د گوجري ژبې د ماسټرۍ (MA Gojri) دوه کلن بشپړ تعلیمي نصاب تدریسېږي.

### د گوجري ژبې ځینې نمائنده لیکوال

۱. میا نظام الدین لاروي: د گوجري ژبې کلاسیک صوفي شاعر او د روحاني ادب بنسټ اېښودونکی.
۲. اسرائیل اثر: په گوجري ادب کې د تحقیق او عصري نثر معتبر نوم.
۳. ډاکټر جاوېد راهي د اوسني دور تر ټولو متحرک څېړونکی چې د گوجري ژبې د غټو سیندونو (ډکشنریو) او انسایکلوپېډیا د مرتب کولو کار یې کړی دی.
۴. سر جورج ابراهم گریرسن ( Sir George Abraham Grierson) هغه انگرېز ژبپوه چې په خپل تاریخي لیکلي کتاب کې یې د اول ځل لپاره د گوجري ژبې د راجستاني ریښو پېژندگلو وکړه.
۵. ډاکټر جی سي شرما (Dr. J.C. Sharma) هندي ژبپوه چې د گوجري ژبې د گرامر په جوړښت او قواعدو یې مستند کتاب ولیکلو.
٦. وین اي لوسي (Wayne E. Losey) امریکایي محقق چې په پاکستان او کشمیر کې یې د گوجري ژبې په غږیز کیفیت (Tone) او د املا په معیاري کولو باندې نوې څېړنه کړې ده.

### مأخذونه

1: Government of India. (1950). The Constitution of India (The Eighth Schedule & The historical entry constraints for Gojri language inclusion). Ministry of Law and Justice.
2: Government of Jammu and Kashmir. (1956). The Constitution of Jammu and Kashmir (The Sixth Schedule recognition provisions for regional languages). J&K Legislative Assembly.
3: Grierson, G. A. (1908). Linguistic Survey of India (Vol. IX, Part III: Specimens of the Rājasthānī and Gujarātī). Government of India.
4: Jammu & Kashmir Academy of Art, Culture, and Languages. (2012). Rules and regulations for publication and patronage of regional languages (Gojri Section). J&K Cultural Academy Press.
5: Khyber Pakhtunkhwa Provincial Assembly. (2025). Resolution No. 412: Approval of Gojri as an authorized floor language of the provincial assembly. Government of Khyber Pakhtunkhwa.
6: Losey, W. E. (2018). Writing Gojri: Linguistic and sociolinguistic constraints on a standardized orthography for the Gujars of South Asia. Work Papers of the Summer Institute of Linguistics, University of North Dakota Session, 46(1), Article 3. https://doi.org/10.31356/silwp.vol46.03
7: Pakistan Bureau of Statistics. (2023). Instruction manual for enumerators: Linguistic coding and tablet configurations for the 7th Digital Census of Pakistan (NADRA backend configuration reports). Ministry of Planning Development & Special Initiatives.
8: Puri, B. N. (1986). The History of the Gurjara-Pratiharas. Munshiram Manoharlal Publishers.
9: Rahi, J. (Ed.). (2010-2015). The Gujjars (Vols. 1-5). Jammu and Kashmir Academy of Art, Culture, and Languages.
10: Rensch, C. R., Hallberg, C. E., & O'Leary, C. F. (1992). Sociolinguistic Survey of Northern Pakistan (Vol. 5: National Language Authority of Pakistan and Summer Institute of Linguistics).
11: Sharma, J. C. (1982). Gojri Grammar. Central Institute of Indian Languages.

## د اوسنۍ شاعرۍ وجودي او...

د لفظونو کلی وران شو
ما نه تورو کډه وکړه
په وجود کې مې دننه
داخلي جنګ شروع شوی
لمبې بلې دي او سوځم
له خپل ځان نه پنا غواړم
خپل جسد په اورو ورمه
له خپل سیوري نه ډارېږم
زما اوښکې ماشومانې
د لېمو له کوره وځي
تورو خاورو کې رغړېږي
ترې وږې هیلې غلې
د سکوت د ماښام دود کې
د مستۍ له ښاره وځي
د زړګي له پولو اوړي
او له سترګو فنا کیږي
د احساس مړي پراته دي
جنازې ته یې څوک نشته
د آهونو په ډاګو کې
وراسته کیږي خاورې کیږي
جدایي دې انقلاب و
هر څه هر څه یې تالا کړل
کنډوالې هغه کوڅې شوې
چې رنګیني ستا په مخ وې
د دیدن لارې شوې شاړې
رڼا ورځ یکې تیاره ده
دا به کله بیا رغېږي؟!
دا به څنګه ابادیږي؟!
ته به کله راستنېږې؟!
زه به څومره اواره یم؟...!

که وګورو اباسین د دې شعر په پیل کې پراخه استعاره کاروي لکه:

د لفظونو کلی وران شو
مانه تورو کډه وکړه

یعنې شاعر دومره مات شوی چې ژبه یې هم ورسره ماته شوې ده. لفظونو کلی یوه پراخه استعاره ده چې د شاعر د تخیل، احساس او بیان نړۍ تمثیلوي. خو چې وایي:

خپل جسد په اورو ورمه

دا یو ناشونی کار او په شعري نړۍ کې د رواني ستړیا او له خپل ذاته د پردي کېدو تر ټولو ژور تصویر همدا دی. لکه د خپل وجود په شاه کول، د احساس مړی، د لفظونو کلی او له خپل سیوري ډاریدل ماته د دې شعر ممتازې کرښې ښکاري چې شعر یې ډېر ژور کړی دی.

ضرور خو نه ده دا دې نه کوي څوک
مینه نو څه ده مینه څه کوي څوک
ما دې مخ ښکل کړ تا څپېړه راکړه
بد کوي تا سره چې ښه کوي څوک

د لومړي بیت په لوستلو داسې ښکاری لکه ګیله چې کوي خو دویمه مصرع یې بلې خوا ته ځي او داسې ښکاري چې شاعر دومره بې وسه دی چې د مینې تعریف نه شي کولی. خو په دویم بیت کې بېرته طنز او اعتراض ته مخه کوي، که دا د عادي منطق له مخې وګورو نو ښکلو مینه ده، څپېړه سزا ده خو شاعر دا خبره نه کوي بلکې هغه وایي چې ما ښه درسره وکړل او تا بد راسره وکړل، بیا دستي وایي چې:

بد کوي تا سره چې ښه کوي څوک

یعنې که د ښه کولو نتیجه څپېړه وي، نو بیا به څوک درسره ښه وکړي؟ دا بیت محاوره لري او وروستۍ مصرع یې د ولسي حکمت رنګ لري لکه ولسي وینا او یا متل. اباسین کله کله له عادي تصویر لکه غبار او اینې څخه ژور مفهم جوړه وي لکه:

زه لکه خپل ذات نه وتلی تبخیر شوی غبار
ته لکه هره آیینه کې کوشېر شوی تصویر

د دې بیت صدر او عجز که وګورو زه او ته کلمې راغلي دي د بیت یوه کرښه به زه ولاړه او دویمه کرښه په ته ولاړه ده. په دې سره یې شعر ډېر ژور کړی دی.
په دې کې زه غبار دی او ته ثابت تصویر دی، بیا زه له ځان وتلی ښودل شوی او ته هر ځای حاضر ښودل شوی، همدا شان زه محو کېدونکی ښودل شوی او ته نه محو کېدونکی ښودل شوی، د دې تر څنګ زه وجودي کمزوري بلل شوی او ته وجودي حضور ښودل شوی چې دا د بیت او اوسنۍ شاعرۍ د یو بل ماډل اصلي قوت دی نو څکه خو وایي:

راغلې زما په روح کې حل شوې، لاړې
لکه څراغ مې زړه کې بل شوې، لاړې

په دې بیت یې ما یو بل ځای کې هم خبرې کړې وې:

د اباسین په څاڅکو وتوکېدې
چې دنګه ونه د ځنګل شوې، لاړې

د اباسین څینې بیتونه ساده دي او همدې ساده والي یې شعر ته رواني ورکړې لکه:

د ځیګر پرهر مې زوړ شو تا ته راغلم
نوی زخم راکړه نوې سزا راکړه
زړه مې ستا د جفا سور اور ته نیولی
څو داغونه نور په نوې ادا راکړه

د ابهام په ګړنګونو کې به ورک شم
که مې وترې دفتر او شاعري
تضادونه په واحد حصار کې اوسي
اباسین، خطر، خبر او شاعري

د اباسین له نوم منکره زه دې ښه پېژنم
زه له دې ټولو انسانانو په تا ګران یم، نه یم؟

زمریالی اباسین د رواني او ساده شاعرۍ تر څنګ داسې شعرونه هم لري چې په پراخه کچه استعارې په کې دي، لکه دا شعر خو د استعارو د ډېروالي له امله یې زه په څلورو برخو وېشم.

**لومړۍ برخه**
د زړه په کور مې غنو ځالې کړې
د تورتمونو غنو
د بېلتونونو غنو

**دویمه برخه**
ګرد مې د ذهن په تاخچو پروت دی
د محبت په تاخچو
د خاطرو په تاخچو

**درېیمه برخه**
سکوت مې خور دې د ارمان په خونو
د تبسم په خونو
د تلوسو په خونو

**څلورمه برخه**
شونډې مې رېږدي پوکوم ګردونه
د عشق کتاب را اخلم
لکه زړه سیپاره
چا پرې لیکلي "مینه نه مړه کیږي"...

د دې شعر په لومړۍ برخه کې ذهن یوه کنډواله ده، زړه د کور لپاره استعاره، غنې د وېرې، یوازیتوب او منفي یادونو لپاره، ځالې د یادونو دایمي کېدلو لپاره استعاره، تورتم او بېلتون د تیارې لپاره، ګرد د هېرېدو او تاخچې د حافظې د طبقو لپاره استعارې دي.
په درېیمه برخه کې ارمان د غوښتنې استعاره، تبسم د خوشالۍ او تلوسه د انتظار لپاره استعارې دي.
په څلورمه برخه کې چې وایي( شونډې مې رېږدي پوکوم ګردونه) دا یوه ډېره انساني او ژوندۍ صحنه ده څکه د شونډو رېږدېدل، د دروني اضطراب لپاره استعاره، ګرد پوکول د حافظې پاکولو لپاره استعارې دي. یعنې شاعر هڅه کوي خپل ذهن پاک کړي، خو دا کار یوازې د رېږدېدلو په کچه ممکن دی.
دا شعر د اباسین د شاعرۍ هغه لوړ هنري مثال دی چې په کې ذهن د کور په بڼه انځور شوی، احساسات په کې ژوند کوي او حافظه د ګرد لاندې مړه کېږي خو په ورستي بند کې عشق بیا هم د نجات وروستۍ نښه ښودل کیږي، دا شعر د نقاشۍ ترڅنګ د عشق د نه مړ کیدو اعلان هم کوي.
په دوو نورو غزلونو کې یو ځل د ځان تعریف نه شي کولی او بیا د محبوب نه ځان نه شي خلاصیدلی یا جلا کیدلی لکه:

له آیینې سره غږېږم، څوک یم؟
لګیا یم ځان نه هم هېرېږم، څوک یم؟
زه د خپل ذات په کرلېچونو کې ورک
ځان لټوم نه پیدا کېږم، څوک یم؟
څوک یم چې خپل جسم کې قید پاتې یم
څوک یم پوهېږې؟ نه پوهېږم، څوک یم؟
د اباسین د تندې اوج کې یمه
په وچه دښته کې ورکېږم، څوک یم؟

**یا دا چې:**

چېرته لاړ شمه له تا نه چېرته لاړ شم
ته په ما کې یې له ځانه چېرته لاړ شم
د یار یاده ته ساحل شوې زه سایل شوم
لالهانده ستا له خوا نه چېرته لاړ شم
د سکوت په جزیرو کې مې غوغا ده
د جنون له انتها نه چېرته لاړ شم
چېرته ما کې چېرته تا کې یم ورک شوی
چا ته لاړ شمه له چا نه چېرته لاړ شم
اباسین باندې دې راج چلیږي عشقه
وایه ستا له اِستیلا نه چېرته لاړ شم

زمریالی اباسین په خپلو غزلونو کې هم د هویت او هم د وجودي ناپامۍ او هم د وهم په اړه خبرې کوي:

که رایادیږي نه نو ولې مې هېرېږي هم نه
هغه یو وهم چې ورک شوی او ورکیږي هم نه
د غره په سر د غروب رنګ کې قدمونه وهي
یو څوک روان دی خو له سترګو پنا کیږي هم نه

پورته بیت که احساس هم لري خو سینمایي تصویر یې ډېر اوچت دی، د دې غزل نور دوه بیتونه هم ښکلي دي:

د حافظې له پردو شاته پټ پټوني کوي
یو تت تصویر دی خو تصویر غونډې ښکاریږي هم نه
یوه ښکالو ده چې موده کیږي آواز یې اورم
د اباسین زړه ته رسیږي او رسیږي هم نه

مخکې له دې چې بحث راټول کړم باید ووایم چې د اوسنۍ شاعرۍ ماډلونه دومره پراخ، خو اړخیز او ژور دي چې په یوه واحد تعریف یا عنوان کې یې راټولول اسان کار نه دی. همدا پراخوالی د اوسني شعر ښکلا هم ده او د نقد لپاره یې یوه ستره ننګونه هم جوړه کړې ده. په همدې تنوع کې د زمریالي اباسین شاعري ځانته ځانګړی ځای لري، څکه د هغه شعر یوازې یو بیان او خبرې نه دي، تخیل، استعاري جوړښت، وجودي پوښتنو او رواني تجربو یو ګډ هنري نظام دی چې ډېرو خبرو ته اړتیا لري. که له یوې خوا د اباسین په شاعرۍ کې سمبول او ساده محاوره شته خو بلې خوا داسې ژورې استعارې هم شته چې د ذهن، زړه، حافظې او وجودي جوړښتونه له سره تعریفوي.

اباسین د شاعرۍ پراخ جهان لري او له ډېره وخته شاعري کوي خو ما یې یوازې د تېرو کلونو د شعر بېلګې راخیستي او په پخوانۍ شاعرۍ مې یې عرض نه دی لرلی خو که هغه هم ولټول شي شاید نور رنګونه، تخنیکونه او خوندونه په کې پیدا کړو.

دا خبره څکه سمه ده چې د هغه د شاعرۍ ځانګړی قوت په دې کې دی چې ساده الفاظ په ژورو مفاهیمو بدلوي، فردي درد عمومي کوي او احساس پورته وړي.
اباسین د شاعرۍ پراخ جهان لري او له ډېره وخته شاعري کوي خو ما یې یوازې د تېرو کلونو د شعر بېلګې راخیستي او په پخوانۍ شاعرۍ مې یې عرض نه دی لرلی خو که هغه هم ولټول شي شاید نور رنګونه، تخنیکونه او خوندونه په کې پیدا کړو. پای

## په بیهقي تاریخ کې د...

بجنگ من بیا اول، که من هم سخت سرتېرم[۸]
٦- خت (خټ، ختہ): د خټو په معنا او مجازاً زړه خوړلی.[۹]
**۷- ختو (خت+ او، خټو):** د خټو او یا د نرمو او پستو خټو په معنا.[۱۰]
**۸- غوندی (غونډۍ):** د ډېرۍ، پښتۍ او د غره له اندازې لږ په معنا.[۱۱]
په یوې نوموني کې لولو:
د خیر په غونډۍ کېناسته او ورته غږېده. (سر غوندی خیر ششته، گپ میزنه).
**۹- گدود (ګډوډ):** د خواره واره، تیت و پرک په معنا.[۱۲]
**۱۰- گدودی (ګډوډي):** د ګډولو، خواره واره او د اخوا دېخوا کولو او ګډولو په معنا.[۱۳]
**۱۱- پندیدن (پنډیدن):** د پړسېدو، پړسوب په معنا.
په متل کې راغلي:
له درده یې پړسوب ډېر دی. (از درد کرده پندیدگی اش بسیار است).[۱۴]
**۱۲- پت (پټ):** د پټ، پټ شوي، محفوظ، مخفي په معنا، د لوخ بډ.[۱۵]
**۱۳- پاسره:** د ساتنې، سپما او زېرمې په معنا.[۱٦]
**۱۴- مت (مټ):** د مټینې خاورې په معنا، هغه خاوره چې خړې اوبه راشي او بیا وچې او ناسته خاوره یې درز درز یا وچوي.[۱۷]
او په دې ډول ډېرې نورې...
ابوالفضل محمد بن حسین بیهقي (۳۸۵- ۴۷۰ هـ ق) چې د غزني له لویو پوهانو څخه دی، سره له دې چې زېږون یې د نیشاپور په خواوشا کې شوی؛ مګر د عمر ډېره برخه یې په غزني کې تېره کړې او په ډېر باور چې نوموړي د یوه ارزښتمن او وزین اثر "بیهقي تاریخ" په لیکلو په غزني کې ۳۸ کاله تېر کړي چې د هغه وخت له اغېزه یې یاد اثر همداسې نه دی پاتې شوی، او ځای - ځای په کې د پښتو دودیزې کلمې لیدل کیږي، د بېلګې په توګه:
**کوندرۍ.**
**سمچ= سمخ، سمخه.**
**تاسه= توسول، توسېدل.**
**پرکار= پر کال.**
**شل، کتاره (کټاره)**
**کرباس، هار، لت (لټ)**
**دمامه (ډمامه) او نور...**
مګر زه د لیک د ډېرېدو له وېرې یوازې د درېو ویېونو پر معنا او څېړنې بسنه کوم:
**۱- شل**
دا هغه کلمه ده چې په بیهقي تاریخ کې له لومړیو تر وروستیو ورسره مخامخ کېږو، لکه ابوالفضل وایي: "تیر و **شل** و شمشیر در احمد نهادند، وی بسیار بکوشید، آخر بکشتند و سرش ببریدند".[۱۸]
د شل کلمه چې د پارسي په فرهنګونو کې د لومړي زور په بڼه راغلې؛ دا ډول معنا یې ورته کښلې ده: "**شل** نیزۀ کوچکی را گویند که آنرا گاهی دوه پره و گاهی سه پره نیز سازند، ده، پانزده آنرا بگیرند و یک یک آنرا بجانب خصم اندازند".[۱۹]
په "فرهنګ بهار عجم" کې د واله هروي په دغه بیت استناد شوی دی:

**شل** و رمح دلیران بند در فیلان بدان ماند
که چرخ هشتمین را بر جهان یک یک عیان آمد

په هندي کې دغه ویې ته "شول، په څرګند واو" ویل شوي، د هند د یوه اوڅار شاعر تلسي داس (۹۳۹-۱۰۳۴ هـ ق) په یوه اثر کې چې ځان ته یې د "رامائن" نوم غوره کړی؛ داسې ویلي دي:

سیوک شتهہ نرپ کرپن کوناری
کپٹی متره **شول** سمه چاری[۲۰] (کشکنڈ باکانڈ)

د هندي په پراکریتونو کې دغه ویی په لومړي زور د **شل** په بڼې راغلې، د ټاډ راجستان په ۱۱٦۳ مخ کې داسې یاده شوې ده:

بختا بختا وخت براکیون ما را اجمل
هندوانی کا سهرا ترکانی کا **شل**

د کتابونو او آثارو له لوستو روښانېږي چې دغه جنګي آله افغانانو (پښتنو) پورې اړه او تړل کېږي، لکه د غزني یوه درباري شاعر ابوالحسن علي بن جولوغ سیستاني (۴۲۹-۵۳۵ هـ ق، مړ) چې په فرخي اوڅار دی، تقریباً زر کاله دمخه یې داسې ویلي دي:

به گونۀ **شل** افغانیان دو پره تیز
چو دسته بسته بهم تیرهای بی سو فار (د دیوان ٦۲ مخ)

له فرخي (۲۰۰) کاله وروسته د غزني یوه نوموتي لیکوال محمد بن منصور بن سعید (د ۵۲۵ او ۵۳۵ هـ ق، تر منځ زېږېدلی) چې په بمبارکشاه نوملی او په فخر مدبر اوڅار دی، نوموړي هم یاده جنګي آله افغانانو (پښتنو) پورې وتړله او په "آداب الحرب و الشجاعة" اثر کې یې داسې ولیکل: "**شل** و ژوبین سلاح افغانان و هندوان است، کسانیکه هم تیغ دارند و هم **شل** و ژوبین، که چون بیندارند اگر کاری نیاید، بشمشیر جنګ کنند".[۲۱]
د غزني په سهېلي خوا کې یو ځای د (**شل+ گر**) په نامه شته او په دغه ځای کې د ډېرو ځوانانو د یاد مهارت په لیدو چې نېزې او شل یې تر ډېره کارولې؛ حیرانېږي او دغه آلات یې بیا افغانانو (پښتنو) پورې تړلي او تاریخي مخینه تر ډېره لري.[۲۲]
د افغانستان اوڅار مؤرخ استاد عبدالحی حبیبي (خدای دې عمر ډېر کا او قلم یې برکتناک شه) د طبقات ناصري په نښلونو (تعلیقاتو) کې لیکلي دي: "**شل** و شلګی در پښتو نیزه را گویند و این نیزه ها را در شلگر غزنی می ساختند و شلگر ناحیت غزنی را هم تاکنون بهمین نام (**شل+ گر**) می نامند، که (گر) در پښتو از ادات ظرفیت است، یعنی جای ساختن نیزه و نیزستان".[۲۳]
محمد حسن خان د اندړ قبیلې یو کس (پښتون) چې د (غازي خاني بابا) له کورنۍ سره اړوند دی، د کلي یو منلی تجار هم دی، نوموړی د غزني په کلیواله سیمه کې مېشت او د قبیلوي روایتونو پر اساس یې راته وویل: "قبیلۀ اندړ از زمان باستان در نواحی غزنه بودوباش دارند، جوانان این قبیله بهنگام شاهنشاهیء یمین الدوله سلطان محمود غازی ۳۸۷- ۴۲۱ هـ ق، در نیزه زنی و **شل** افگنی نام بر آوردند، ازین جهت شاهنشاه غزنه بایشان **شلگر** یعنی نیزه زن و **شل** افگن لقب داد و در اثر علاقه مظروفیت بگذشت زمان این خطه نیز **شلگر** نام یافت".

### مأخذونه


۱- لغات عامیانۀ پارسی. ۳٦۰ مخ، د کابل چاپ.
۲- ضرب المثل های پارسی در افغانستان. ۱۰۸- ۱۰۹ او ۱۹۴ مخونه، د تهران چاپ.
۳- لغات عامیانۀ پارسی. ۱۳۵- ۳۳۰ مخونه.
۴- ضرب المثل های پارسی در افغانستان، ۱۱۴ مخ.
۵- لغات عامیانۀ پارسی. ۲۱۷- ۴۸۲ مخونه.
٦- ضرب المثل های پارسی در افغانستان. ۲۵ مخ.
۷- لغات عامیانۀ پارسی. ٦۷- ۷۳ او ۵۲۹ مخونه.
۸- تاریخ بیهقی. ۳۳۴ مخ، د تهران چاپ، ۱۳۲۴ل.
۹- لطایف اللغات. ۱۳۳ مخ، نولکشور چاپ. برهان قاطع، ۲ ټوک. ۷۳ مخ، بمبي. بهار عجم. ۱۷۴ مخ، د نولکشور چاپ. مصطلحات الشعراء. ۲۸۴ مخ، د نولکشور چاپ. هفت قلزم، ۳ ټوک. ۱٦۰ مخ، د هندوستان چاپ. فرهنګ نظام، ۳ ټوک. ۳۴۷ مخ، د حیدرآباد- دکن چاپ.
۱۰- هندي شاعري. ډاکټر اعظم کریوي. ٦۱ مخ، اله آباد.
۱۱- آداب الحرب و الشجاعة. ۲٦۰ مخ، د ایران چاپ.
۱۲- طبقات ناصري، ۲ ټوک. ۳۵۴ مخ، د کابل چاپ.
۱۳- پښتو سیند. محمد ګل مومند. ٦۳م، کابل، ۱۳۱٦ل.
۱۴- پښتو قاموس. ٦۸٦ مخ، د کابل چاپ. ظفراللغات. ٦۴۱ مخ، د پېښور چاپ.
۱۵- اپني شاد. ۵۱۲ مخ، د ایران چاپ.
۱٦- دلیل ساطع. د مدراس ۱۳ چاپ.
۱۷- کتاب الهند. اردو ترجمه. ۱ ټوک، ۱۵۴ مخ، د ډهلي چاپ. زین الاخبار. ۲۹۰ مخ. د ایران چاپ. د استاد عبدالحی حبیبي له لمنلیکونو او نښلونو سره.
۱۸- مهابهارت. روسي ژباړه. ۳۲- ۴۸ مخونه، ماسکو.
۱۹- زین الاخبار. ۲۹۸ مخ.
۲۰- ظفراللغات. ۳-٦ مخ. پښتو قاموس، ٦۴۴- ٦۸٦ مخونه.
۲۱- طبقات الصوفیه. ۲۸۴ مخ. د کابل چاپ، د استاد عبدالحی حبیبي له لمنلیکونو او نښلونو سره.
۲۲- تاریخ بیهقي، ٦۳٦ مخ.
۲۳- همدغه اثر، ٦۵۹ مخ.

زېرى

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۵ ل.کال، د وري میاشتې ۱۱- ۱۲مه ګڼه | پرله پسې ۴۷۵- ۴۷٦ مه ګڼه

علمي- څېړنيزه، ادبي ټېنګلس ورځنۍ جريده

مسؤول مدير: څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين
مهتمم: نوماند څېړندوی جاويد افتاب
کمپوز او ډيزاين: دوکتور خاورين
کتنپلاوی: اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين
څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل
برېښناليک: zeray1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com
● په زېرى جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز
څېړنيز ارګان

د اړيکې شمېرې: (780831960) (0) (+93)
(202201279) (0) (+93)

www.asa.gov.af
د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ



# علم خانه د دانش
## (د کليله او دمنه بشپړ تاريخ)

پروفيسور دوکتور زبير حسرت

کليله او دمنه د دنيا د ادبياتو تــر ټولو پخوانيو، اغېزناکو او ډېر ځله د ژباړل شوو کتابونو څخه يــو اغېزناک کتاب دی. دا يوازې د حيواناتو د کيسو ټولګه نـــــه ده، بلکې د سياست، اخلاقو، حکمت، د حکومت کـــــولو او انساني اړيکو يو ستر اثر ګڼل کېږي.

### هندي اصل (پنچ تنترا)

د دې اثر بنسټ د هند د سنسکرېټ "پنچ تنترا" په بنيادي کتاب باندې ولاړ دی. دا اثر د ميلاد نـه شاوخوا درې يا څلور پېړۍ مخکې ليکل شوی ګڼل کېږي. د يــوه روايت ترمخه، يـــو هندي حکيم "وشنو شرما" دا کتاب د يوه باچا رايې دابشليم د درې ناپوهه زامنو د روزنې لپاره وليکلو، چې هغوی د حيواناتو د کيسو له لارې سياست، عقل او اخلاق زده کړي.

### له هند څخه ايران ته

د شپږمې ميلادي پېړۍ په مهال د ساساني بـــــاچا خسرو نوشيروان په امر د هغه درباري طبيب برزويه هند ته لاړ، دا کتاب يې راوړ او په پهلوي (منځنۍ فارسي) ژبه يې مشهور شخصيت بزر جمهر وژباړلو. ويل کېږي چــې دا ژباړه اوس لـــــه منځه تللې ده، خو د نورو ژباړو بنياد ضرور وګرځېده.

### عربي ژباړه

پـــــه اتمه ميلادي پېړۍ کې نامتو اديب عبدالله ابن المقفع لـه پهلوي عربي ته وژباړلو او د "کليله او دمنه" نوم يې پرې کېښود.
د "کليله" او "دمنه" نومونه د دوه ګيدړانو دي، چـــــې د کتاب په اولنيو کيسو کې اهم رول لري او وروستو هم دا نوم د ټول کتاب نوم شو.

### په ټوله دنيا کې خورېدل

لـه عربي ژباړې وروسته دا کتاب د دنيا ډېرو ژبو ته وژباړل شو، لـــــکه: فارسي، سرياني، يوناني، عبراني، لاتيني، هسپانوي، ايــټالوي، جرمني، فرانسيسي، پښتو، انګريزي، اردو او لسګونه نـــــورې ژبې. د منځنيو پېړيو په يورپ کې هم دې کتاب د اخلاقي او تمثيلي ادبياتو په وده ډېر ژور اثر پرېباسلو.




### فارسي ژباړې

په فارسي ادب کـــې د دې کتاب څو مشهورې ژباړې شوې دي. تـــــر ټولو نوموتې ژباړه يـــــې د حُسېن واعظ کاشفي اثر د "انوار سهيلي" په نامه دی، چې د تېموريانو په دوره کـــې يې ډېر شهرت وموند. بيا د جلال الدين محمد اکبر په دوره کې د هغه وزير ابو الفضل د "کليله و دمنه" په نامه وژباړلو.

### پښتو ژباړې

پښتو ژبې تـــه دا اثر تر ټولو وړاندې د ابو الفضل د "کليله و دمنه" لـــــه ژباړې څخه د "علم خانه د دانش" پـــــه نامه وژباړل شو، چې د پښتو ټـول ښېتونه په کې د خوشحال خان خټک دي او يوه رباعی پـــــه کې د خوشحال بابا د زوی عبدالقادر خان خټک هم راغلــــې ده، ولې د اشرف خان زوی او د خوشحال خان خټک د نـــــمسی محمد افضل خان خټک په نامه منسوب ده. نورې ژباړې يې وخت پــــــه وخت تر سره شوې دي چـــــې د والي سوات په وينا عبدالغفور قاسمی د "انوارِ سهيلي" په نامه او د مردان رئيس شاد محمد خان د "دبيرِ دانش" پـــه نامه منظومه کړې ده. د لاچۍ کوهاټ سعادت سحر او په کابل کې صالح محمد زېري او مولوي زين الله منلي هم د دې معتبر اثر پښتو ژبې ته د ژباړلو زيارونه ګاللي دي چې د بېلابېلو چاپونو او ژباړو له لارې يې پښتو لوستونکو تـه د حکمت، اخلاقو او تمثيلي ادب د يوې مهمې سرچينې د لوستلو زمينه برابره کړې ده.

### ادبي ارزښت

دا اثـــــر د تمثيلي (فېبل) ادب غوره نمونه ده چې د حيواناتو لـــــه ژبې د انساني ټولـــــنې مسئلې بيانوي او د سياست، پاچاهۍ، ملګرتيا، وفادارۍ او عدالت درس ورکـــــوي چې د دنيا د ادبياتو په ګڼو اثارو يې اغيز کړی دی.

### د کتاب جوړښت

"علم خانه د دانش" (کليله او دمنه) د يـــــو بل په منځ کې د کيسو د راوړلو ځانګړی سبک لري. يوه کيسه بله کيسه راپېلوي او په هم دې ډول لسګونه حکايتونه پـه يوه هُنري جوړښت کې سره نښلول شوي دي.
له همدې امله، کليله او دمنه د دنيا د ادبياتو يـــو تلپاتې شاهکار ګڼل کېږي او لـــه نږدې دوه زره کلونو راهيسې د حکمت، سياست او اخلاقو د زده کـــــړې لپاره لوستل کيږي. پای

دوکتور ميرحسن خان اتل

# اومان - سوما - کلپالتا

اومان (هوما - سوما) چې پـــه سنسکرېت کې سانپه، په هندي کې بدهشتر او کهانډا، پـــه انګريزي کې (ايفيډرا - Ephedra)، په چينايي کې ماهو يـــا ماهونګ، په بلوچي کې امال، په کشميري کې اسماني او پـــه کوهستاني کې اشمانه بلل کېږي، يو داسې غرنۍ بوټۍ دی چې تر څلورو فوټونو او کله کله تر دې هم لوړېږي. دا بوټی د پـــاڼو پر ځای ژغځی زېږوي. ځانګې يې نېغ له ولو څخه وده کوي. ډډ (تنه) يـــې نستباً کلک وي. د اومانو تاندې ژغځی د پسرلي پـــه موسم کې يو ډول کوچنۍ غوټۍ (ځوخۍ)، واړه واړه ګلان او يو ډول کوچنۍ داني هم نيسي. دا غرنۍ بوټۍ د هماليه له لمنو بيا د منځنۍ اسيا تر وروستيو پولو پورې وده کوي. په نورو براعظمونو کې هم موندل کېږي. البته دا غرنۍ بوټۍ د سهېلي پښتونخوا پـــه زياترو غرونو کې په ګڼ شمېر زرغونېږي. د تاريخ په اوږدو کـې ځای په ځای داسې نخښې تــــر سترګو شوې دي چې د دې ګټور بوټي او انسانانو تعلق زرګونه کـــــاله پخوا او لرغونی څرګندوي. د پښتونخوا (له امو تر اباسينه) او هند پـــــه اساطيري افکارو کـــې د دې غرني بوټي په اړه هغه وخت يوه رومانوي مفکوره رامنځته شوه چې کله يې د (سوما) له افسانوي بوټي سره د ټينګ تعلق د ثـــــابتولو هڅه وشوه، څکه چې د ارين قبايلو په اساطيري افکارو کـــې سوما يو مقدس او افسانوي بوټی يـــاد شوی دی. نامتو ختيځپوه جينز انولډسن هم پـــه دې برخه کې ورته نظر لري او وايي چـــې ارين قبايلو به د سوما د ګل لو کولو. هغه پـــه خپلې څېړنه کې دا هڅه کړې ده چې د پښتو د دې لاندې ټپې تاريخي شاليد هم له ياد دود سره وتړي:

سپوږميه! کړنګ وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

د تاريخ لـــــــه مطالعې څخه دغه خبره جوته ده چې انسانانو تل هر هغه شی مقدس ارزولی دی چې دوی ته يې کومه ګټه رسولې ده، اومان (سوما) هم يو داسې ميډيسنل او ګټور پـلانټ دی چې زښته ډېـرې ګټې لـــرې. هغه وخت چـــې طبي علومو لا ډېـــر پرمختګ نـــه و کړی، نــــو دا بوټی بـــه د څو ناروغيـــــو د درملنې لــــپاره کارول کېده، په خصـــــوص د ســـــالنډۍ ناروغانو تـه به يې لـــــه دې بوټي څخـه دارو درمل جــــــوړول.



د زکام، سکاروي، ټـوخي، دماغي سکون، لوېې تبې او د بلغمو د ختمولو لپاره بـه هم د دې غرني بوټي لـــه سفوف او پوډرو څخه کار اخيستل کېده. ايفيډرين نومي دوا چې د دمې، ټـــــوخي او لوېې تبې د ارامولو لپاره ګټور دارو بلل کېږي نن هم لـــــه دې بوټي څخه ترلاسه کېږي. د اومانو لـــه بوټي څخه بل اهم کار د پوستونو د پخولو پـــه برخه کې اخيستل کېږي چې نن هم په يو شمېر کليوالو سيمو کې د پخوا په بڼه دود دی.

په بېلابېلو ژبو کې د اومان نومونه
علمي نوم: ايپيډرا (لاطيني) کورنۍ: (Ephedraceae)
سانپه (سنسکرېټ)، بدهشتر يـــــا کهانډا (هندي)، ايفيډرا (انګليسي)، ماهـــــــو/ماهونګ (چينايي)، امال (بلوڅي)، اسمانـــــي (کشميري)، علاد (عربي)، ارمک (اردو)، ارمک يـــــــــا ريش بُز (فارسي)، اشمانه (کوهستاني).

ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

Editor - In - Chief:
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (PhD)

Assistant:
Nominee Assistant Prof. Javed Aftab

Compose & Layout Design:
Dr. Khawreen

Address: Center for Languages & Literature,
Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Naway Khaar Kabul - Afghanistan
Contacts: (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
Email:zeray1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com

مـــــــــراد لايق

# پښتو په عربي ليکدود کې

پښتو يوه لرغونې ژبه ده خـو وخت په وخت او په بېلابېلو دورونو کې په دې ژبه او هم ورسره يــــې په ليکدود کې يې بدلونونه راغلي دي. د معلوم تاريخ لـه مخې پوهان وايي چې دوه نيم زره کاله وړاندې پـه لرغوني افغانستان کې د هخامنشيانو د واکمنۍ پـــــــه ختيځو برخو کې خروشتي ليک رامنځته شو او تـر ميلاد درې پېړۍ وړاندې په ټوله آريانا کـــې خپور شو، چې تر پنځمې ميلادي پېړۍ پورې په ګرده آريانا کې دود و او د آريانا بېلابېلې ژبې پرې ليکل کېدې. د دې ليکدود د زېـــــږېدلو او مړينې سيمه د آريانا خاوره ده. (۱)

> دا مشهوره ده چې د پښتو ليک د محمود غـزنـوي پـه دور کې ايجاد شوی خو د محمود په دوره کې د حسن ميمنـدي د وزارت نـه وړاندې دفتري ژبه فارسي وه، نو ښايي پښـتـو له فارسي ژبې پرته په غير رسمي او محلي کچه ليکل کېده.

استاد رښتين د افغانستان تاريخ دويم ټوک (۲۹۰مخ) په حواله په خپل اثر کې ليکي: ويليم جونز د بنګال اسيـايي ټولنې غړی د خروشتي ليک په باب وايي:
"د خروشتي ليک ژبه د آريانا ژبه ده او که چيرې په پښتو ژبه کـې چې د آريانا محلي ژبه ده، غور او څېړنه وشي نو ښايي چې يـــو وخت د دغې ژبې په کومک خروشتي ډېر ليکونه ولوستل شي". (۲)
دا خو د پښتو ژبــې او لرغونو ليکدودونو خبره وه، اوس به اصلي موضوع ته راوګرځو او هغه دا چـــې د پښتو په عربي ليکدود کـــې ايجادوونکی بايزيد انصاري دی او که له ده وړاندې هم په دې ليک کې پښتو ليکل کيده؟ ځينې خلک داسې نظر لري چــې د پښتو ليک بايزيد انصاري په لومړي ځل جوړ کړی دی.
استاد حبيب الله رفيع لــــه دغه دورې تر مخه د پښتو ليکدود په اړه ليکي: "چــې کله زرکاله وړاندې د غزنويانو او غوريانو ترمنځ شخړې راغلې نـــــو د پلاويو خبرې به ترجمانانو ژباړلې، همدا وخت البيروني د پښتو يوه لهجه د زاولي زبان (زابلي) پــــه نامه ياده کړې او همدا وخت د سلطان محمود وزير حسن ميمندي (مـــــيوندي) د پښتو ځانګړو غږونو ته ځانګړي توري جوړ کـــــړي او بيا ترې را وروسته د پښتونخوا په بېلابېلو برخو او هند کـــې د پښتو ژبې او ادب په لاره کــــــې خواره واره پاخه، پاخه کارونه شوي چې د پښتو ژبې او ادب بېلابېلې تـــــــاريخي کړۍ جوړوي. (۳)
که د استاد په خبرو کې "ځانګړو غږونو ته ځانګړي توري جوړول" ته پام وشي نو ښايي چې قاضي سيف اللـه هم ايجادوونکی نـــــه بلکې مصلح او سمونګر وګڼل شي.

همدا راز رفيع صاحب په يوه بل ځای کې د خپلو خبرو تر څنګ د الله بخش يوسفي پـــه حواله ليکي: "عام روايت دا دی چې د سلطان محمود غزنوي پـــــه زمانه کې د ده وزير احمد بن حسن ميوندي (۱۰۳۳مړ) قـــاضي سيف الله وګوماره چې د پښتو ژبې الفبا جوړه کـــړي، نوموړي قاضي د عربي، پارسي، پنجابي او سندهي ژبـــو د الفباوو په مرسته د پښتو ژبې د غږونو لپاره توري وټاکل او په دې توګه لومړی وار د پښتو ژبې الفبا لاسته راغله، خـــــــو الله بخش يوسفي بيا دا کار د پښتو په ليکدود کې سمون بولي نه ايجاد. (۴)

> په لرغوني افغانستان کې د هخامنشيانو د واکمنۍ پـــــه ختيځو برخو کې خروشتي ليک رامنځته شو او تـــــر ميلاد درې پېړۍ وړاندې په ټوله آريانا کـــــې خپور شو، چې تر پنځمې ميلادي پېړۍ پورې په ګرده آريانا کـــې دود و او د آريانا بېلابېلې ژبې پرې ليکل کېدې.

که څه هم په عامه توګه دا مشهوره ده چې د پښتو ليک د محمود غزنوي په دور کـې ايجاد شوی خو د محمود په دوره کې د حسن ميمندي د وزارت نـه وړاندې دفتري ژبه فارسي وه، نو ښايي پښتو لـــــه فارسي ژبې پرته په غير رسمي او محلي کچه هم ليکل کېده او غير لـــــه عربي تورو، نور هغه توري چې د پښتـــو غږونو لپاره جوړ شوي وو، په کې بدلون او سمونه يې کړې وي.
له بده مرغه زمونږ په خاوره د بېلابېلو تاړاکونو لـه امله د مادي شتمنيو سره ډېرې معنوي شتمنۍ هم خـــــاورې شوې دي. دا چــې کوم اثار يرغلګرو له ځانه سره وړي دي نو په هغې کـــې ډېر کم تر لاسه شوي دي. لکه وړاندې چې يادونه شوې کـــــه دغه تاريخي شاليد ته وکتل شي نو وخت په وخت پـه کې بدلونونه راغلي دي او چې خبره د بايزيد دور ته را رسېدلې نـو بايزيد په املا کې د هماغه تورو اصلاح او سمونه کړې کوم تورې چــــې له ده څخه وړاندې د پښتو د ځانګړو غږونو لپاره جوړ شوي وو.
حافظ محمد عبـــــــدالقدوس قاسمي صاحب ليکي: "د بايزيد په اولياتو کې يــــوه خبره دا شمارلی شي چې ده د پښتو لپاره مخصوص رسم الخط ايجاد کـــړ، دا دعوه د بايزيد په اړه د ده د مريدانو هم ده، دولت وايي:

**افغاني لفظ مشکل و، لوست کېښوی نه شه**
**ورتـــه وشـوه کنـنده ديارلـس حـرفـونه**

او دغه رنګ دعوه د خوشحال خان هـــــــــم وه، خو معلومېږي داسې چـــــې پښتو رسم الخط خو پخوانی راغلی و، دې کسانو په کـــــې صرف خپل - خپل لږ ډېر جدتونه کړي دي. (۵)
د دولت په بيت کې څرګنده ده چې د څو تـورو يـادونه شوې او د تورو دا لړۍ له ده څخه وروسته هم ډېـــر ځل بدله شوې ده.
له بايزيد څخه وروسته اخون درويزه هم يـو ليکدود جوړ کړ. بيا لـه درويزه نه وروسته خوشحال خان خټک هم يو نوی ليک جوړ کړ او وړاندينيو ليکدودونو ته قايل نه و، نو په يوه قطعه کې داسې وايي:

**کـه د نظم که د نثر کـــــــه د خط دی**
**په پښتو ژبه مې حق دی بـــــې حسابه**
**نه پخوا په کې کتاب و، نـــــه يې خط و**
**دا دی مـــا په کې تصنيف کړل څو کتابه**

> روايت دا دی چې د سلطان محمود غزنوي پـه زمانه کـې د ده وزير احمد بن حسن ميوندي (۱۰۳۳مړ) قـاضي سيف الله وګوماره چې د پښتـــو ژبې الفبا جوړه کړي، نوموړي قاضي د عربي، پارسي، پنجابي او سندهي ژبـــو د الفباوو په مرسته د پښتو ژبې د غږونو لپاره توري وټاکل.

له دولت لوانۍ څخه د خوشحال خټک ادعا لويه ځکه ده چې دولت د ديارلسو حرفونو خبره کــــــړې وه او خوشحال د نظم، نثر، خط او کتاب دعوه هم کړې، نـو د ده قطعه خو دا دليل نـــه شي کيدای چې ګني وړاندې له ده څخه د پښتو خط، نظم، نثر او کوم کتاب نه و.
اصلاً خوشحال خټک د خپل دور ســــــره د خپل ادبي فعاليت خبره کـــــوي، نه مطلق حکم. همدا راز لــــــه خوشحال خټک نه وروسته دورونو کې هم پښتو ليکدود کې بدلونونه شوي. د بېلګې په توګه معاصر دور کې وزير محمد ګل خان مومند، عبدالصمد خان اڅکزي هم خپل - خپل ليکدودونه جوړ کړي خو دوی هم په کــــې د څو توريو بدلونونه کړي دي. نو د تاريخ په حواله ويـــلی شو چې د بايزيد انصاري دورې څخه ډېر وړاندې پــــه عربي ليکدودونو کې هم پښتو ليکل کېده او دا د دې څرګندونه کوي چې بايزيد د پښتو ليکدود موجد نـــــه دی بلکې په خپل وخت کې يې سمونه په کې کړې ده.

مأخذونه

۱- رفيع، حبيب الله. ژبـــساتنه. مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۴ل. ۴۳مخ.
۲- رښتين، صديق الله. پښتـــــــو ګرامر. آرياناخپرندوی موسسه: پېښور، نه لري. ۷۲مخ.
۳- رفيع، حبيب الله. ژبساتنه. مومـــند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۴ل. ۲٦- ۲۷مخونه.
۴- پورتنی اثر. ۱۴۸مخ.
۵- بايزيد انصاري، خيرالبيان. د عبدالقدوس قاسمي مقدمه: پشتو ادبي ټولنه: چمن. ۱۰۰-۱۰۱مخونه.